مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۸٦** (از ٦ الی ۱۳ دلو ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**افغان سوله؛ په قطر کې د امریکا ـ طالبانو شپږ ورځنۍ خبرې**

په شپږ ورځنیو خبرو کې څه تېر شول؟ ........ ۴

د افغان حکومت دریځ ........ ۵

خبرې کوم لوري ته رواني دي؟ ........ ٦

**افزایش رویدادهای آتش‌سوزی در مراکز تجارتی**

رویدادهای اخیر آتش‌سوزی ........ ۹

عوامل آتش‌سوزی در مراکز تجارتی ........ ۱۰

راه‌کارهای جلوگیری ........ ۱۱

## مقدمه

د افغان سولې په اړه د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو د افغان جګړې د پای ته رسېدو په اړه هیلې زیاتې کړې وې؛ خو له دغې پروسې سره د افغان حکومت ورځ تر بلې زیاتېدونکی  مخالفت هغه څه ګڼل کېږي چې دغه پروسه ګواښي.

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په قطر کې له طالبانو سره له څلورمې رسمي ناستې وروسته، کابل ته د سفر پر مهال وویل چې «په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې په برخه کې یوه ملي اجماع لا هم نه شته.» نوموړي دا هم ویلي چې «د سولې په بحثونو کې د اختلاف یو مهم ټکی دادی چې طالبان چمتو نه دي له افغان حکومت سره خبرې وکړي، ځکه د طالبانو په نظر افغان حکومت یو مشروع حکومت نه دی.»

په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ څلورمه رسمي ناسته، په دغه ناسته کې د دواړو لورو ترمنځ شوي بحثونه، د دغو بحثونو پر وړاندې د ملي یووالي حکومت مخالفت او له دغې پروسې د ناخوښۍ دلایل هغه موضوعات دي چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ کې پرې بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه بیا په افغانستان کې د اورلګېدنې د پېښو زیاتوالي ته ځانګړې شوې ده. په وروستیو کې په سوداګریزو ځایونو او سترو مارکېټونو کې د اورلګېدنې پېښې زیاتې شوې او خلکو ته یې ډېر مالي زیانونه اړولي دي. یوازې تېره اوونۍ د کابل ښار په مندوي بازار کې د دریو سوداګریزو مارکېټونو لسګونه دکانونه د اورلګېدنې له امله وسوځېدل او هټۍوالو ته یې میلیونونه افغانۍ زیانونه واوښتل.

# افغان سوله؛ په قطر کې د امریکا ـ طالبانو شپږم ورځنۍ خبرې



د افغان سولې په اړه د امریکا او طالبانو ترمنځ درېیمه ناسته کابو دوې میاشتې وړاندې په متحده عربي اماراتو کې وشوه. له دغې ناستې وروسته د دواړو لورو ترمنځ د اجنډا پر سر د اختلاف له امله د لنډ مهال لپاره خبرې وځنډېدې. که څه هم دغه ځنډ له خلکو سره په خبرو کې د ُبن‌بست وېره پیدا کړه؛ خو دا خبرې د دواړو لورو ترمنځ بېرته پیل شوې.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو په لړ کې څلورمه رسمي ناسته د قطر په دوحه کې د ۲۰۱۹م کال د جنورۍ په ۲۱مه پیل او د همدې میاشتې تر ۲۶مې یې دوام وکړ. دغه خبرې د دواړو لورو ترمنځ د بندو دروازو تر شا وې او ډېر جزئیات یې ښکاره نه شول؛ خو داسې ښکاري چې دغو خبرو د افغان جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې د سیاسي حل لپاره یو ښه چانس برابر کړی دی.

د افغان سولې په اړه د امریکا او طالبانو وروستۍ ناسته، له طالبانو سره د سولې په برخه کې د افغان حکومت دریځ او دا چې د سولې روانه پروسه په کوم لوري روانه ده؟ هغه موضوعات دي چې دلته یې په اړه بحث شوی دی.

## په شپږ ورځنیو خبرو کې څه تېر شول؟

د امریکا او طالبانو ترمنځ د وروستیو خبرو په اړه رسنیو، په ځانګړې توګه غربي رسنیو د مختلفو سرچینو په حواله بېلابېل رپوټونه خپاره کړل. له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو مهالوېش، د بندیانو تبادله، اوربند، لنډمهاله حکومت، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو زمینه برابرول او د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته نورو ته له افغانستان څخه خطر نه پېښېدل، ټول هغه موضوعات دي چې د رسنیو په حواله د قطر په شپږ ورځنیو خبرو کې د امریکا او طالب استازو ترمنځ پرې بحثونه شوي دي.

زلمي خلیلزاد له دغو خبرو وروسته پر خپله [ټویټر پاڼه](#) ولیکل: «له طالبانو سره شپږ ورځنۍ خبرې د پخوانیو په نسبت رغنده وې، په حیاتي موضوعاتو بحثونه وشول او په دغو بحثونو کې د پام وړ پرمختګونه هم شوي دي؛ خو تر اوسه کومه وروستۍ هوکړه نه ده شوې.»

خلیلزاد کابل کې له ولسمشر غني سره په خبرو کې، د راتلونکي [نظام د جوړښت](#) په اړه له طالبانو سره هر راز خبرې رد کړې او ویې ویل: «د لنډمهاله حکومت موضوع په بشپړه توګه ناسمه ده او په دغو خبرو کې په هېڅ وجه نه ده یاده شوې.»

طالبانو هم په قطر کې له امریکایانو سره د شپږ ورځنیو خبرو په اړه [اعلامیه](#) خپره کړه. په دغه اعلامیه کې ویل شوي: «د مذاکراتو په دې پړاو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او نورو مهمو مسائلو بحث او پرمختګ وشو. په دغه خبرو کې د اسلامي امارت واضح دریځ دا و، تر څو چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو موضوع حل نه شي پر نورو برخو کې پرمختګ امکان نه لري. دا چې ځینو رسنیو په یاده غونډه کې د اوربند یا کابل اداري سره د مذاکراتو د توافق راپورونه ورکړي، هېڅ حقیقت نه لري.»

په ټوله کې د دواړو لورو ترمنځ تر شپږو ورځو د خبرو غځېدل، له خبرو وروسته د دوی دریځونه او د بېلابېلو سرچینو خبرې، ټول ښیي چې د امریکا ـ طالبانو په وروستیو خبرو کې پر مختلفو مسائلو بحثونه شوي دي او لکه څنګه چې زلمي خلیلزاد ویلي، امریکا او طالبان د سولې پر یوه عمومي چوکاټ هوکړې ته رسېدلي دي؛ خو په دغو خبرو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل ـ چې د ځلورمې رسمي ناستې اصلي اجنډا وه ـ هغه څه دي چې ښکاري دواړو لورو پرې نسبي توافق هم کړی دی.

## د افغان حکومت دریځ

افغان حکومت له لومړي سره د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې په موخه له پیل شوو خبرو ناخوښ و، ځکه په دغو خبرو کې له پیله افغان حکومت له خبرو وتلی او منزوي ښکارېده. له همدې امله هڅه کوي چې ځان ته د محوري رول موندلو په موخه د دغې پروسې پر وړاندې خنډونه پیدا کړي او ټینګار یې پر دې دی چې د افغان حکومت له مالکیت پرته د سولې هیڅ راز خبرې ورته د منلو نه دي.

له طالبانو سره د ابوظبۍ په ناسته کې هڅه وشوه چې دغه ډله له افغان حکومت سره خبرو ته کېني؛ خو طالبانو له افغان حکومت سره خبرې رد کړې. که څه هم امریکا او افغان حکومت هڅه وکړه چې طالبان د مختلفو فشارونو له لارې له حکومت سره خبرو ته اړ باسي؛ خو طالبانو له پیل شوو خبرو د وتلو ګواښ وکړ. له ګواښ او په خبرو کې له لنډ ځنډ وروسته د امریکا او طالبانو خبرې بیا پیل شوې.

په رسنیو کې د دې خبرو په اړه مختلفو تبصرو د افغان حکومت د رهبرانو او نورو سیاسي چارواکو غبرګونونه را وپارول. وال سټرېټ ژورنال په دوحه کې د طالبانو او امریکایي استازو د خبرو پر مهال په یوه رپوټ کې وویل: «په دغه خبرو کې هوکړه شوې چې طالبان به د داعش او القاعدې ډلو ته اجازه ورنه کړي، چې د افغانستان خاوره په بهر کې د بریدونو لپاره وکاروی.» د همدې رپوټ له خپرېدو څو ساعته وروسته غني د سویس په داووس ښار کې جوړ شوي نړیوال اقتصادي کنفرانس ته وویل :«طالبان د ځمکې پر مخ له سترو جنایتکارو او مافیایي سازمانونو او دغه راز له پاکستان سره اړیکې لري».

په ورته وخت کې په کابل کې له ولسمشر غني سره د خلیلزاد له لیدنې وروسته د امریکا سفارت په یوه خپره شوې خبرپانه کې د نوموړي له خولې لیکلي: «د افغانستان د سولې کیلي په کابل کې ده.» خو په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د غني لومړي مرستیال امرالله صالح یې پر وړاندې تند غبرګون ښود او ویې ویل: «د سولې کیلي په کابل کې نه، بلکې په پاکستان کې ده.» نوموړي دا هم وویل: «هڅه کېږي، د۹۰مې لسیزې په شان ارګ او کابل د تحولاتو په محور کې نه، بلکې په ځنډو کې وساتل شي او د تصمیم نیونې مرکز بهر ولېږدول شي».

د سولې د رواني پروسې په اړه د ولسمشر غني وروستی ویډیویي پیغام هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د افغان سولې په اړه له روان بهیر سره یو ډول مخالفت دی. نوموړي په دغه پیغام کې وویل: «موږ سوله ژر غواړو، خو په تدبیر یې غواړو. تدبیر ځکه مهم دی چې بیا پخوانۍ تېروتنې تکرار نشي او افغانستان یو ځل بیا د کورنیو جګړو

په ډګر بدل نه شي.» نوموړي د طالبانو پر وړاندې هم تېزه لهجه وکاروله او ٌپر دغه ډله یې غږ وکړ، چې «د بهرنیانو له شومو پلانونو راووځي، خپله افغاني اراده تمثیل کړي، د افغانستان غوښتنو ته لبیک ووایي او له دولت سره جدي مذاکرات پیل کړي.»

له دې وړاندې ولسمشر غني د جنیوا په کنفرانس کې وویل: «د سولې د پروسې مالکیت او رهبري باید له افغان حکومت سره وي. په پسرلي کې د سولې د مذاکراتو د بریالیتوب لپاه د ولسمشرۍ ټاکنې اړینې دي. افغانان یو متخب حکومت ته اړتیا لري چې د سولې هوکړه تصویب او عملي کړي او دا پروسه لږ تر لږه پنځو نورو کلونو ته اړتیا لري.»

له دې ټولو خبرو ښکاري چې د ملي یووالي حکومت مشرانو ته ټاکنې لومړیتوب لري. ولسمشر غني غواړي د راتلونکو پنځو کلونو له لپاره بیا د ولسمشر په توګه راشي او وروسته بیا د سولې خبرې پیل کړي؛ خو دا یوازې د پنځو نورو کلونو لپاره د روانې جګړې د دوام معنا لري.

## خبرې کوم لورې ته روانې دي؟

په ټولنیز ډول د سولې هر بهیر یوې مثبتې پایلې ته د رسېدو په موخه له زیاتو بحثونو، لوړو او ژورو تېرېږي. د افغانستان په شان یوه جګړه ځپلي هېواد کې، د لسیزو جګړه که د خبرو له لارې حل کېږي؛ نو زیاتې حوصلې، وخت او بحثونو ته اړتیا لري.

په افغانستان کې د جګړې پېچلتیا ته په کتلو سره، اړتیا ده چې د سولې پروسه هم همدومره پېچلې وګڼل شي. د افغانستان په جګړه کې د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه ځینې داسې ورانکاري عناصر لاس لري چې د خپلو ګټو په موخه نه غواړي د سولې بهیر بریا ته ورسېږي؛ له همدې امله اړتیا ته چې د افغان جګړې ښکېل اړخونه د سولې په بهیر کې هم له پوره حوصلې او تدبیره کار واخلي.

په اوس مهال کې له لویه سره د امریکا او طالبانو ترمنځ د روانې جګړې د پای ته رسېدو په موخه د سیاسي جوړجاړي لپاره د مخامخ خبرو پیل او د دې خبرو دوام، هغه څه ګڼلی شو، چې سولې ته د رسېدو په برخه کې یې هیلې زیاتې کړې دي.

له وروستيو شپږ ورځنيو خبرو څخه وروسته د دواړو لورو اعلاميې او خبرې هم هيله بښونکې دي، ځکه دواړو لورو په خبرو کې د پرمختگ او د خبرو د دوام ټکي ياد کړي دي. دغه راز د طالبانو له لوري د قطر سياسي دفتر مشري ملا برادر ته سپارل خپله هغه څه گڼلی شو چې روانه پروسه به لا مخته بوځي او ښيي چې طالبان په خبرو کې جدي دی، ځکه ملا برادر د طالبانو د تحريک له بنسټ اېښودونکو څخه دی. نوموړی اوس هم په طالبانو کې د مطرح نظامي او مذهبي مشر په توگه لوړ ځای لري.

د طالبانو له لوري د روان جگړي اصلي لامل په افغانستان د بهرنيو ځواکونو حضور گڼل کېږي او دا هغه موضوع ده چې امريکا يې په اړه بحث ته حاضره شوې ده او داسې ښکاري چې په جدي توگه د خپلو سرتېرو د ايستلو اراده لري.

له دې ټولو سره سره لا هم په افغانستان کې سولې ته رسېدو پر وړاندې ځينې خنډونه شته او تر ټولو مهم يې د هېواد دننه له طالبانو سره د سولې په برخه کې د يوې ملي اجماع نه شتون دی او د ملي يووالي حکومت دی، چې حل يې زياتو بحثونو ته اړتيا لري. پای

# افزایش رویدادهای آتش‌سوزی در مراکز تجارتی



در کشوری فقیری همچون افغانستان که حدود چهل درصد مردم آن زیر خط فقر زندگی می‌کنند، وقوع رویدادهای آتش‌سوزی در مراکز تجارتی، یکی از چالش‌های دیگری در برابر زندگی مردم این کشور می‌باشد که به دلیل آن در هر رویداد آتش‌سوزی، هزارها تن دارایی‌های خود را از دست می‌دهند.

هفتۀ گذشته (۷/دلو/۱۳۹۷ هـ ش) در نتیجۀ آتش‌سوزی در مارکیت تجارتی میلاد مندوی شهر کابل حدود ۴۰۰ دکان با تمام اموال آن سوخت. به گفتۀ سرای‌دار این مارکیت علت آتش‌سوزی در مارکیت میلاد، شارتی برق بوده که در یکی از دکان‌های داخل این مارکیت شده بود.

به دلیل ناوقت رسیدن اطفائیه و عدم کنترول آتش‌سوزی در مارکیت میلاد، به مارکیت‌های تجارتی ریحان و داوی که در جوار مارکیت میلاد قرار داشتند نیز خساره وارد شده است و در کل به گفتۀ آذرخش حافظي، عضو ارشد اتاق تجارت و صنایع افغانستان، این آتش‌سوزی بیش از یک میلیارد دالر خسارۀ مالی رسانده است.

رویدادهای آتش‌سوزی‌های اخیر در کابل، عوامل آتش‌سوزی‌ها در مراکز تجارتی و راه‌های جلوگیری از حوادث آتش‌سوزی از جمله مواردی اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## رویدادهای اخیر آتش‌سوزی

آتش‌سوزی اخیر در مارکیت‌های مندوی شهر کابل در حالی تازه‌ترین خبرهای هفته را به خود اختصاص داده است که در این اواخر تنها در شهر کابل چندین مارکیت بزرگ تجارتی در چنین رویدادها سوختند و به صاحبان آن میلیون‌ها دالر خساره وارد گردید.

حدود یک ماه قبل به تاریخ ۱۳ جدی سال جاری خورشیدی در چهارراهی حاجی عبدالحق از مربوطات حوزۀ نهم شهر کابل به دلیل نامعلوم  نخست در یک تانک تیل آتش‌سوزی آغاز شد و بعداً به ساختمان نزدیک تانک تیل، کابل تاور سرایت کرد که در آن سه تن جان باختند و حدود ۴۴ تن دیگر مجروح شدند و نیز افزون به تلفات انسانی، خسارات مالی زیادی نیز در پی داشت.

در ماه عقرب ۱۳۹۷ هـ ش در مربوطات حوزۀ دوم شهر کابل در جادۀ نادر پشتون دو مارکیت بزرگ تجارتی، خیرخوا و زرنگار که از جمله مراکز بزرگ وسایل الکترونیکي در افغانستان بود و حدود ۸۰۰ دکان داشتند در یک آتش‌سوزی مهیب بگونۀ کامل سوختند و شعله‌های آتش میلیون‌ها دالر سرمایۀ مردم را به خاکستر تبدل نمود.

حدود یک و نیم سال قبل به تاریخ ۱۳ عقرب ۱۳۹٦هـ ش مارکیت قدیمی تیمورشاهی واقع در شهر کابل در آتش سوخت. همچنان چند ماه قبل از همین حادثه، مارکیت بزرگی تجارتی اباسین ځدران واقع در میرویس میدان شهر کابل، نیز در یک آتش‌سوزی سوخت که در آن یک تن جان باخت و حدود ۸۰ میلیون دالر خساره به مردم وارد گردید.

این همه از نمونه‌های آتش‌سوزی‌های است که بر اساس آمار اطاق تجارت و صنایع افغانستان در هر رویداد ده‌ها میلیون دالر زیان‌های مالی به مردم وارد شده است و در کل وقوع چنین رویدادها ضربۀ برزگی اقتصادی برای افغانستان و مردم این کشور می‌باشد که لازم است حکومت افغانستان در حفظ سرمایه‌های مردم تلاش کند.

## عوامل آتش‌سوزی در مراکز تجارتی

با آنکه تاکنون اطلاعات دقیق و مؤثق از علت‌های اصلی آتش‌سوزی‌ها در مراکز و مارکیت‌های بزرگ تجارتی بیشتر مبهم بوده است؛ اما نظر به بعضی شواهد و یافته‌ها، از موقعیت‌های آتش گرفتگی و نکات توصیه‌یی ذکر شده از سوی گروه‌های آتش‌نشانی اینجا به چند مورد می‌توان اشاره داشته باشیم:

**استفاده از ابزار برقی و گازی:** استفاده از وسایل گرم‌کن و سردکن چون بخاری‌های گازی و برقی، همچنان آب‌گرمی‌ها توسط دکانداران همراه با بی‌تفاوتی برخورد با این وسایل آتش‌زا، باعث آتش‌گیری شده و زمینهٔ آتش‌سوزی‌ها را مهیا می‌کند.

**غیر معیاری بودن مارکیت‌ها:** اکثریت مارکیت‌ها در افغانستان بدون در نظرداشت تمام معیارها و ضرورت‌ها اعمار شده‌اند. در این مارکیت‌ها بدون در نظرداشت کدام احتمال خطر، بند بودن راه‌های کمک‌رسانی، موجودیت لین‌های برهنه و فرسوده، سیستم غیر معیاری برق‌دهی و برق‌گیری با لین‌های کهنه و نصب جین بکس‌های برق در مکان‌های غیر مناسب در مارکیت‌های تجارتی، تماماً از جمله مواردی اند که باعث وقوع رویدادهای آتش‌سوزی می‌شوند. طوریکه سرای‌دار مارکیت میلاد علت آتش‌سوزی در این مارکیت را شارتی برق در یکی از دکان‌های داخلی این مارکیت عنوان می‌کند.

**دست‌های مافیایی:** با توجه به نوعیت برخی از رویدادها در مراکز تجارتی، تحلیل‌هایی نیز وجود دارد که در وقوع چنین رویدادها دست‌های مافیا و دزدان مافیایی نیز وجود داشته باشد. به گونهٔ مثال هنگام وقوع چنین رویدادها افرادی نیز بازداشت می‌شوند که با استفاده از وضعیت اضطراری آتش‌سوزی در اماکن تجارتی، به سرقت اموال و پول نقد دکانداران می‌پردازند و در شماری از چنین رویدادها با پول‌های هنگفتی از سوی پولیس بازداشت نیز شده‌اند.

**غفلت از مسؤولیت شهروندی:** غفلت از مسؤولیت شهروندی که شامل عجله هنگام ترک دفتر یا محیط کاری و عدم اطمینان خاطر از بندکردن سویچ‌های برقی، انداختن بقایای سگریت، خاکستری جوش و رها سازی اشیای آتش‌زای دیگر چون پطرول، دیزل، تیل خاک و گاز مایع در اماکن مسکونی و تجارتی از سوی شهروندان، نیز باعث آتش‌گیری شده و باعث خسارات هنگفت مالی می‌شود.

**نبود سیستم ایمنی:** عدم تجهیز مراکز تجارتی با سیستم ایمنی حد اقل وسایل ابتدایی ضد حریق از قبیل کپسول‌ها و همچنان نبود سیستم اطفائیه در یک مرکز تجارتی که به صدها ملیون افغانی در آنجا سرمایه‌گزاری شده است، باعث می‌شود که بسا اوقات از یک حادثۀ اندک یک رویداد بس بزرگ به وجود بیاید.

**غیر منظم بودن سیستم شهری:** بسیاری ساحات شهر کابل بدون ماستر ِپلان شهری آباد شده اند. گاهی اوقات اگر شما به داخل شهر متوجه ساختار آن شوید، به نامنظمی شهر پی خواهید برد؛ مثلا دریک راسته شما هم نانوائی، هوتل، رخت فروشی، گاز فروشی و د فترهای تجارتی را مشاهده خواهید کرد که درین صورت نمی‌توان توقع داشت که واقعات آتش‌سوزی رخ ندهند.

## راه‌کارهای جلوگیری

در رابطه به جلوگیری از رویدادهای آتش‌سوزی مردم و حکومت هر دو مسوولیت دارند و لازم است در این رابطه توجه جدی داشته باشند. در کابل، برای جلوگیری از وقوع رویدادهای آتش‌سوزی و یا جلوگیری از سرایت آتش‌سوزی‌های نیاز است که به موارد ذیل توجه صورت گیرد:

**آگاهی‌دهی به مردم:** عدم موجودیت برنامه‌های آگاهی‌دهی به مردم در مورد جلوگیری از وقوع رویدادهای آتش‌سوزی یکی از عوامل مهم افزایش رویدادهای آتش‌سوزی در افغانستان است. حکومت مسوولیت دارد که از طریق آموزش و آگاهی‌دهی به شهروندان یاد بدهد که اشیای آتش‌زا را چگونه و در کدام موارد استفاده کنند، همچنان در هنگام آتش‌سوزی چه باید انجام دهند و از ابزار دست داشته خویش چگونه در جلوگیری از آتش‌سوزی استفاده نمایند.

**استخدام ابزار پیش‌گیری:** نصب کپسول‌های مناسب آتش‌نشانی نوع آبی، گازی و غیره در اماکن کاری و تجارتی و موجودیت یک سیستم اطفائیه در یک مارکیت تجارتی که ده‌ها میلیون افغانی در آنجا سرمایه‌گزاری شده است.

**ستندردسازی ریاست اطفائیه:** با آنکه دولت افغانستان برای حوادث آتش‌سوزی اِرگانی مستقلی بنام ریاست اطفاییه دارد؛ اما غیر ستندرد بودن این اداره، نبود تجهیزات لازم و پرسونل مسلکی در ارگان اطفائیه باعث شده که آتش سوزی‌های کوچک سرایت بسیار داشته باشد و ِبه آتش‌سوزی‌های مهیب تبدیل شود. در این

عرصه نیاز است که حکومت افغانستان به معیاری‌سازی ریاست اطفائیه و افزایش تجهیزات لازم در اطفائیه‌ها، این بخش را قوی کند تا در کنترول آتش‌سوزی‌ها به وقت و موثر عمل کند.

**توجه به سیستم بیمه و ستندرد سازی:** نبود سیستم بیمه در افغانستان باعث می‌شود که سرمایهٔ داران بعد از آن که سرمایه‌های خویش را در همچون رویدادها از دست می‌دهند، دوباره به کار و تجارت خود آغاز نکنند. چون به دلیل نبود موجودیت سیستم بیمه نمی‌تواند برای آغاز دوبارهٔ کار خویش پولی را بدست آوردند. در این صورت نیاز است که مارکیت‌های بزرگ تجارتی بیمه شوند و در صورت وقوع همچون حوادث به مشکلات مردم رسیدگی صورت بگیرد. همچنان نیاز است که در هنگام اعمار تعمیرها مطابق ستندردهای لازم بین‌المللی کار صورت گیرد و تعمیرها با توجه به تمام ستندردهای و ضرورت‌های لازم اعمار شوند.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com